ورځپانه
مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د جون ۱۶مه | ۵۵۱مه گڼه


ځېره

۴ مخ

## جک کروواک



ده په امریکايي پوخ کې د دندې او کار پر مهال خپل لومړنی ناول هم لیکلی و. د کتاب نوم یې (سمندر زما ورور دی) و، خو دا کتاب هغه مهال چاپ نه شو.

## کرنې ریاست: په دایکندي کې بزگرو ته د ۱۹.۵ متریک ټنه د زعفرانو د پیازو وېش پیل شو



د دایکنډي د کرنې او مالدارۍ ریاست وايي، چې په دغه ولایت کې یې د زعفرانو د کرلو او ودې په پار بزگرانو ته د یاد بوټي د پیازو د وېش لړۍ پیل کړې ده.

د دایکنډي د کرنې رییس عبدالواحد فېروزي وايي، چې ۱۹.۵ متریک ټنه د زعفرانو پیاز به د دغه ولایت په میرامور، شهرستان، نیلي، پاتو، خدیر او کیتي ولسوالیو کې وکرل شي.

هغه زیاته کړه چې پر دې سربېره یې د دغه ولایت بزگرانو ته د اته قلمه نور زراعتي وسایل، لکه کېمیاوي سرې، زراعتي دواوې او د زعفرانو د راټولولو وسایل وېشي.

نوموړي ویلي، چې تر دې وړاندې هم په یادو ولسوالیو کې د زعفرانو بوټي کرل شوي وو، چې ښه پایله یې ورکړې ده. د ده په خبره، د دایکنډي زعفران د کیفیت له لوړ دي، چې په نړیوال بازار کې ځانگړی ځای لري.

# شېر شاه سوري جومات؛

## دیني عالمان: حکومت وضاحت نه ورکوي، پېښه له شکونو او ابهاماتو ډکه ده




پر دیني عالمانو د بریدونو په اړه بې ځوابه پوښتنې — ۲ مخ
افغان سوله او نوې هیلې — ۲ مخ
په بیجېنگ کې د کرونا وبا نوې څپه او پر وړاندې یې چټک او غوره اقدامات — ۳ مخ


## ناتو: طالبان مسلح باید به تعهد خویش در کاهش خشونت ها در افغانستان عمل کنند



سازمان ناتو می گوید که طالبان مسلح باید به تعهد خویش در کاهش خشونت ها درافغانستان عمل کنند.

این اظهارات را ستیفانو پوتنیکروف نماینده ملکی ناتو در افغانستان دیروز در صفحه تویتر خویش بیان کرده است.

موصوف اضافه کرده است که وی از طریق ویدیو کنفرانس با حنیف اتمر سرپرست وزارت امور خارجه افغانستان، صحبت کرد. نماینده ملکی ناتو میگوید، باوجودیکه تهدیدات و مشکلات وجود دارد، اما امیدواری های که در مذاکرات بین الافغانی بوجود امده، باید در این زمینه بیشتر کار شود.

ستیفانو افزوده است که باید طالبان به خاطر منافع افغانستان اقدامات لازم را انجام دهند. نماینده ملکی ناتو در حالی با حنیف اتمر سرپرست وزارت امور خارجه افغانستان گفتو گو نموده که قرار است شام دیروز(دو شنبه) نمایندگان افغانستان، روسیه و امریکا در مورد اقدامات اخیر پروسه صلح افغانستان از راه ویدیو کنفرانس صحبت کرند.

این درحالیست که یک مقام وزارت دولت در امور صلح می‌گوید که نخستین نشست گفتگوهای میان افغانان ممکن است در روزهای آینده در قطر برگزار شود.

او می‌گوید که هیئت گفتگوکننده آماده است و نیز تدابیر صحی به علت ویروس کرونا نیز گرفته شده است تا این روند را متاثر نسازد.

## د اطلاعاتو او فرهنگ له نوماند وزیر څخه د هغه د قضیې په تړاو څېړنې پیل شوې



۵ مخ

## د هېواد نامتو مخترع غلام صدیق «مخترع» د ور پېښې ناروغۍ له امله وفات شو

غلام صدیق مخترع چې په بېلابېلو برخو کې یې له ۳۴۴ ډېرې اختراع گانې کړې وې، د ورپېښې ناروغۍ له کبله مړ شوی دی.

نوموړي خپله لومړنۍ اختراع په څوارلس کلنۍ کې وکړه او په دې برخه کې یې ځانگړې مهارت درلود. غلام صدیق مخترع په تخنیکي برخه کې په بېلابېلو ادارو کې دندې تر سره کړې دي او له ۳۴۴ ډېرې داسې اختراع گانې یې کړې وې چې له ټولو څخه یې په عملي ډول گټه اخیستل کېده، خو نوموړي به تل له رسنیو سره په خبرو کې د حکومت له چارواکو گیله کوله چې کار او اختراع گانو ته یې ارزښت نه ورکوي او امکانات نه ورته برابرېږي.

د نوموړي اختراع گانې د ځینو بهرنیو تخنیکي شرکتونو لخوا هم منل شوې او ستایل شوې وې. غلام صدیق مخترع چې اوسمهال یې د بې وزلۍ ژوند تېراوه، د ۸۰ کلونو په عمر د ور پېښې ناروغۍ له کبله وفات شوی دی.

نوموړي بیابیا له حکومتي او نورو مرستندویو ادارو څخه گیلې کړې، چې په خبره یې، چا دومره مرسته ورسره ونه کړې چې خپلو اختراعاتو ته وده ورکړي او په دې برخه کې نوي کسان هم وروزي. د هغه د اختراعاتو یو کتاب هم په دې ورستیو کې چاپ شو چې تر ډېره پکې د نوموړي د کار او اختراعاتو په تړاو مسایل پکې راغلي دي.


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

## پر دیني عالمانو د بریدونو په اړه بې ځوابه پوښتنې

پرون ولسمشر غني امنیتي ادارو ته امر کړی چې د دیني عالمانو او جوماتونو امنیت ته پام وکړي. ولسمشرۍ ماڼۍ وایي د کابینې په غونډه کې ولسمشر غني ویلي چې د دیني عالمانو امنیت باید نور لومړیتوب وي.
له همدې سره هممهاله دیني عالمان او د شېرشاه سوري جومات لمونځ کوونکي او د دغه جومات د شهید شوي امام کورنۍ وايي چې په جومات کې شوې چاودنه ډېره مشکوکه او گونگه ده او حکومت یې په لازم ډول نه څېړي.
پر دیني عالمانو د وروستیو بریدونو په اړه ډېر شکونه او پوښتنې شته چې لا هم بې ځوابه دي او دا د حکومت مسوولیت دی چې دغو پوښتنو ته ځواب ووايي. دا بریدونه څوک کوي، ولې یې کوي او څنگه بریالي کېږي چې دا ډول بریدونه وکړي...؟ حکومت مخامخ مسوول دی، ځکه چې د خلکو د ژوند د خوندي کولو مسولیت لري. له همدې امله له یوه اړخه باید حکومت د دغو بریدونو مخه ونیسي او له بله اړخه ولس ته واضح ځواب ووايي چې دا ډول بریدونه څوک او ولې کوي.
حکومت ۳۵۰ زره امنیتي ځواکونه لري، د دوی دنده ده چې د دغو بریدونو پلانوونکي ومومي او خلک خوندي کړي. اوس له بده مرغه نه یوازې خلک خوندي نه دي، بلکې خلک پوهېږي هم نه چې څوک او ولې پر جوماتو، دیني عالمانو او لمونځ کوونکو بریدونه کوي.
تر دې مهمه، خطرناکه او لویه جدي مسأله دا ده چې خلک خپله د حکومت په اړه بدگومانه کېږي. په شېرشاه سوري جومات کې له چاودنې وروسته لمونځ کوونکي او د سیمې اوسېدونکي په تکرار وايي چې له چاودنې یوه ورځ وړاندې امنیتي ځواکونو یا د امنیتي ځواکونو په نوم وسله والو جومات خالي کړی، خلک یې ترې ایستلي او کتلی یې دی. آن ځینې خلک وايي چې ښايي همدغو کسانو چاودېدونکي مواد ځای پر ځای کړي وي. حکومت ته پکار ده چې دغو تورونو ته ځواب ووايي. ایا رښتیا هم امنیتي ځواکونو جومات تلاشي کړی او که بل څوک دي؟ که بل څوک وي، نو څوک دي چې د امنیتي ځواکونو په جامو کې راځي، له جوماته خلک وباسي او تلاشي کوي؟ که امنیتي ځواکونه وي، ولې امنیتي ځواکونه جومات ته تللي، دوی هلته څه کول؟ که امنیتي ځواکونو ته د برید یا چاودنې معلومات وو او جومات یې کتلی، نو بیا ولې چاودنه وشوه؟ او که دا ادعا یو مخ ناسمه هم وي او هېڅوک جومات ته نه وي ورغلي، بیا هم حکومت باید واضح ووايي چې نه د دوی امنیتي ځواکونه او نه هم د امنیتي ځواکونو په نوم بل څوک له چاودنې وړاندې جومات ته تللي دي.
دا او دې ته ورته جدي، مهم او لوی شکونه او پوښتنې شته چې حکومت یې باید ځواب کړي. که تر اوسه پورې پر حکومت دا تور و، چې د خلکو د سر ساتنه نه شي کولی، نو له دې وروسته حالت تر دې هم خطرناک کېږي. که له ولس سره دا فکر پیدا شي چې حکومت یا حکومتي کړۍ په دغو بریدونو کې ښکېلې دي، نو بیا به دا د حکومت لپاره ډېرې ناوړه پایلې ولري. له همدې امله حکومت باید وضاحت ورکړي، خپل دریځ روښانه کړي او په دې اړه را پورته شوي شکونه او اندېښنې ځواب کړي.

# افغان سوله او نوې هیلې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د امریکا او طالبانو ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړې له مخې، ټاکل شوې وه چې درې میاشتې وړاندې بین الافغاني خبرې اترې پیل شي. مگر تر یادو خبرو اترو وړاندې اړینه وه چې د طالبانو ۵ زره زندانیان د افغان حکومت له زندانونو خوشې شي، کوم چې په لومړیو کې د افغان حکومت لپاره سره کرښه گڼل کېده او دا یې خپله داخلي پرېکړه او واک گاڼه، خو قطر او کابل ته د امریکایي چارواکو د گرمو سفرونو په ترڅ کې افغان حکومت سولې ته د رسېدو په موخه د طالب زندانیانو د خوشې کېدو لړۍ د یو لړ لوړو ژورو سره پیل کړه او طالبانو هم د افغان حکومت یو شمېر سرتېري د ښه نیت او سولې ته د رسېدو په پار خوشې کړل. بلخوا طالبانو د کوچني اختر په ورځو کې درې ورځنۍ اوربند اعلان کړ چې افغان حکومت یې نه یوازې هرکلی وکړ بلکې د یو شمېر نورو طالب زندانیانو خوشې کېدو اعلان یې هم ترسره کړ. په دې توگه د دواړو لورو ترمنځ د باور فضاء جوړېدو ته لاره هواره شوه او د سولې بحثونه یو ځل بیا تاوده شول. د سولې تازه روانه لړۍ به تر کومه بریده ښه پرمخ ولاړه شي؟ او د سولې پر وړاندې نور کوم خنډونه شته چې افغان حکومت او طالبان یې باید په اړه غور وکړي؟ په دې تحلیل کې مو پرې شننه کړې ده.

د سولې روانه لړۍ

افغانستان ته د سولې راوستلو هوکړه چې د روان کال فورورۍ میاشتې په ۲۹ مه نېټه د امریکا او طالبانو ترمنځ لاسلیک شوه، تر دې مهاله د یادې هوکړې عملي کولو لپاره دواړو خواوو ژمنتیا ښودلې ده. خو د یادې هوکړې یو بنسټیز شرط د بین الافغاني خبرو اترو پیل دی، چې د طالب زندانیانو د خوشې کېدو د ځنډ له امله تر اوسه په ځوړنده بڼه قرار لري. خو دا چې تر اوسه ۳ زره طالب زندانیان خوشې شوي او د اټلانټیک کونسل سره په ځانگړې آنلاین مرکه کې ولسمشر محمد اشرف غني څرگنده کړېده چې د هوکړې له مخې پاتې ۲ زره زندانیان به هم په نږدې راتلونکې کې خوشې کړي. طالبانو په گډون امریکایي چارواکو د دغه نویو پرمختگونو څخه تود هرکلی ترسره کړ او طالبانو د ولسمشر غني د دې څرگندونو وروسته وویل د هغوی د پاتې زندانیانو ورخوشې کولو یوه اوونۍ وروسته به بین الافغاني خبرې اترې پیل کړي. د دواړو خواوو ترمنځ د جگړې او تاوتریخوالي کمولو ترڅنگ د سولې په اړه دغه ډول نوی نرمښت ښیي چې د تېر په پرتله افغان اولس تر بل هر وخت ډېر سولې ته نږدې شوی دی.

په افغان سوله کې د پاکستان ونډه

په دوحه کې د سولې هوکړې لاسلیک وروسته د افغان سولې په برخه کې د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد پاکستان ته خپل سفرونه ډېر کړي دي. ښاغلي خلیلزاد د افغان سولې په اړه څو ورځې وړاندې قطر، پاکستان او په پای کې افغانستان ته سفر ترسره کړ، او په افغان سوله کې یې د پاکستان له مرستې ځانگړې مننه هم ترسره کړه.
د زلمي خلیلزاد سفر وروسته د پاکستان د فوځ لوی درستیز جنرال قمر جاوید باجوه کابل ته سفر وکړ او له ولسمشر غني او د مصالحې عالي شورا له رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله سره یې لیده کاته ترسره کړل.
د سولې په دې مهم پړاو کې پاکستان ته د زلمي خلیلزاد او کابل ته د جنرال باجوه سفر دا په ډاگه کوي چې لا هم پاکستان د افغان سولې پروسه کې کلیدي ونډه لري او په دې برخه کې د یاد هېواد مرسته ډېره اړینه ده. له دې پرته هغه څه چې پاکستان ته په افغان سوله کې اړین دي هغه د پاکستان پر خلاف د افغان خاورې نه کارول دي کوم چې د جنرال باجوه د وروستي سفر موضوع هم وه. خو که بلخوا وکتل شي پاکستان د یادې موضوع په اړه اندېښنه لري، چې موده وړاندې زلمي خلیلزاد نوی ډهلي ته د خپل سفر په ترڅ کې هند دې ته وهڅاوه ترڅو طالبانو سره مخامخ خبرې اترې ترسره کړي. په افغان سولې موضوع کې د هند گډون د امریکا لپاره ښايي؛ ځکه اړین وي چې له یوې خوا روانې خبرې اترې او د سولې ترسره شوې هوکړې پر وړاندې خنډونه راولاړ نه شي او بل دا چې امریکا غواړي په سیمه کې خپلو ستراتیژیکو ملگرو له ډلې هند سره د چین او روسیې د نفوذ کمولو په خاطر ښې اړیکې ولري. هغه څه چې پاکستان او د یاد هېواد نږدې ملاتړي چین ته د اندېښنې وړ موضوع ده. او دواړه هېوادونه وېره لري چې ښايي هند افغان خاوره د پاکستان او همدا راز په سیمه کې د چین اقتصادي پروژو پر خلاف وکاروي. خو کابل ته د پاکستان لوی درستیز سفر په ترڅ کې افغان چارواکو دا ډاډ ورکړی چې افغان خاوره به د بل هیڅ هېواد پر خلاف نه کارول کېږي. او ښايي جنرال باجوه د افغان سولې پرته په لویه کچه د همدې ډاډ ترلاسه کولو او په دې اړه د افغان چارواکو پاملرنې راگرځولو په موخه کابل ته وروستی سفر ته ترسره کړی وي.

د سولې سبوتاژ کولو هڅې

په دې کې شک نه شته چې یو شمېر کړۍ چې په روانه جگړه کې یې گټې نغښتې دي، په بېروني او داخلي کچه هڅه کوي ترڅو د سولې هڅې سبوتاژ او له خنډ سره مخ کړي. په تېرو څو کلونو کې ولیدل شول هر کله چې د سولې خبرې اترې گرمې شوې په ورته مهال کې ناڅاپي جگړه ییز عملیات ترسره شوي یا د دواړو خواوو څخه کلیدي کسان وژل شوي او یا نیول شوي، او په دې توگه د سولې هڅې سبوتاژ شوې دي.
دا چې اوس د طالبانو او افغان حکومت له لوري افغانستان ته د سولې راتگ په موخه د سولې په برخه کې د باور فضاء رامنځ ته شوې او په داخلي او بهرنۍ کچه ترې هرکلی هم کېږي، مگر په همدې حال کې د رواني جون میاشتې په ۲ یمه د پلازمینې کابل وزیر اکبر خان سیمه کې مشهور دیني عالم، د وزیر اکبر خان جامع مسجد خطیب مرحوم محمد ایاز نیازی، په مسجد کې د یوې بمي چاودنې په ترڅ کې شهید کړای شو.
طالبانو په ډاکټر نیازي حمله نه یوازې وغندله بلکې دا یې د یو ستر جنایت په توگه یاد کړ. په داسې حال کې چې د پېښې وروسته افغان حکومت د پېښې څېړلو لپاره د پلاوي ټاکلو خبر ور کړ، پرون د جون په ۱۲ نېټه د جمعې لمونځ پر مهال د پلازمینې په زړه کې د شیر شاه سوري په نوم د یو بل مشهور مسجد خطیب عزیز الله مفلح او په همدې ورځ تخار ولایت اړوند چاه آب ولسوالۍ کې د مولوی عین الله په نوم د یو مسجد خطیب شهید کړای شو.
علماء چې د افغانستان په څېر سنتي ټولنه کې ځانگړی احترام لري او په ملي او دیني قضایاوو کې د هغوی رول ته په درنه سترگه کتل کېږي، د سولې په دغه روانه لړۍ کې د هغوی د ځنځیري وژنو دوام به د هغو کړیو کار وی چې غواړي د بې باورۍ فضاء دوام ومومي او د سولې روانه پروسه له جدي خنډ سره مخ کړي.
دا چې دواړه خواوې طالبان او افغان حکومت د علماوو د تازه وژنو سره مخالفت ښکاره کوي، دا په ډاگه کوي چې لا هم یو شمېر داخلي او بېروني کړۍ شته چې سوله خپلو گټو سره په ټکر کېویني او د بین الافغاني خبرو اترو د پیل کېدو څخه په وېره کې دي.

سوله او پاتې زندانیان

ولسمشر محمد اشرف غني د اټلانټیک کونسل سره په ځانگړې مرکه کې په ډاگه کړه چې پاتې دوه زره طالب زندانیان به ډېر ژر له بند څخه آزاد کړي. د ولسمشر د دې څرگندونو وروسته طالبانو په لومړني غبرگون کې د دې گام اخیستو څخه هرکلی وکړ او له خپل طرف یې د بین الافغاني خبرو اترو ژر پیلولو شین چراغ هم ورکړ.

طالب زندانیان له بند څخه د آزادېدو پر مهال

د طالبانو ۵ زره زندانیانو آزادول چې د بین الافغاني خبرو اترو پیلولو وړاندې د یو بنسټیز شرط په توگه گڼل کېږي، د پوره کېدو په اړه د وروستیو څرگندونو څخه د سولې په برخه کې د بل هر وخت د باور فضاء رامنځ ته شوې او طالبانو هم هوډ څرگند کړی چې د افغان حکومت د خوشې شویو سرتېرو پرته به پاتې نور سرتیري هم له خپلو زندانونو څخه آزاد کړي. د هوکړې له مخې د دواړو خواوو څخه د ټولو زندانیانو خوشې کېدو وروسته به ښايي یوه اوونۍ وروسته بین الافغاني خبرې اترې پیل شي. خو د بین الافغاني خبرو اترو په ترڅ کې اړینه موضوع د اوسني افغان حکومت دوام موضوع ده، هغه څه چې طالبان یې مخالفت کوي او په تېر کې یې هم په دې اړه د یو لنډ مهالي حکومت د طرحې وړاندې کولو په اړه څرگندونې ترسره کړې وې. مگر د اټلانټیک کونسل سره په خبرو اترو کې ولسمشر محمد اشرف غني یو واربیا د لنډ مهالي حکومت په اړه هر ډول گونگوسې رد او څرگنده یې کړه چې د پخواني ولسمشر ډاکتر نجیب الله ناکامه تجربه به تکرار نه کړي او له واک څخه به لاس په سر نه شي. د دا ډول څرگندونو څخه داسې برېښي چې ددواړو لورو په مینځ کې اوس هم کافي واټن شتون لري.

پایله

اوس چې د افغان سولې لپاره د بریا چانسونه د بل هر وخت څخه زیات مساعد شوي، افغان حکومت او طالبان باید د همدې فرصت څخه په گټې اخیستنې هڅه وکړي چې خپل مینځي باور ځواکمن او د سولې پاتې پړاوونه هم په ښه توگه طی کړي. دواړه خواوې دې د پاتې زندانیانو لړۍ گړندۍ کړي ترڅو بین الافغاني خبرو اترو ته لاره هواره شي او د هغو داخلي او بهرنیو کړیو مخه دې ونیسي چې غواړي په یو ډول نه یو ډول د سولې روانه لړۍ سبوتاژ کړي. د سیمې هېوادونو اندېښنو ته په کتو دې ټولو هغو خواوو ته چې په افغان سوله کې دلچسپي لري دا په ډاگه شي چې افغان خاوره به د هیچا پر خلاف نه استعمالېږي او په دې برخه کې دې د نړیوالې ټولنې ملاتړهم ترلاسه شي. د دیني علماوو، سیاستوالواو ملي شخصیتونو ترور چې د سولې د سبوتاژ کولو ناکامه هڅه ده، ژرتر ژره دې ودرول شي او عاملین دې بې نقاب کړی شي. ښايي ځینې کړۍ اراده ولري چې د همدې وژنو له لارې د سولې روانه پروسه د خنډ او ځنډ سره مخ کړي.

## بې پولې ډاکتران: په دشت برچي زېږنتون کې د امنیتي گواښونو له کبله خپل فعالیتونه پای ته رسوو

د بې پولې ډاکترانو ټولنه وايي چې د کابل ښار په دشت برچي کې په زېږنتون باندې د وسله والو له برید وروسته یې اوس هلته خپل فعالیتونه پای ته رسولي دي.

دغې ټولنې په یوې اعلامیې کې ویلي: «دا پرېکړه له هغې وروسته وشوه چې د بریدگرو او د برید د انگېزې په اړه هېڅ ډول مالومات ترلاسه شوي نه دي؛ د دې برید لومړنۍ موخې میندې، ماشومان او روغتیایي کارکوونکي وو او دا شان بریدونه ښايي په راتلونکي کې هم وشي.»

دغه ټولنه وايي چې د مې میاشتې په ۱۲ مې د وسله والو په برید کې ۱۶ کسان په سیستماتیک ډول وژل شوي چې ښځې او ماشومان هم پکې دي.

که څه هم چې افغان حکومت د دغه برید پړه پر طالبانو واچوله، خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وویل چې د هغوی معلومات ښیي چې دا برید د داعش ډلې کړی دی.

د بې پولې ډاکترانو ټولنه وايي: «په داسې حال کې چې نه پوهېږو د برید مسوول څوک دی، خو پوهیږو چې زېږنتون په مستقیمه توگه د یو تاوتریخجن، ویجاړوونکي او بېهوده عمل له لوري په نښه شوی و چې موخه یې د زېږنتون د ناروغانو، روغتیایي کارکوونکو او زموږ بشرپالونکو فعالیتونو ترور او وژل وو.»




اعلامیه وايي چې په دشت برچي کې یې د ځانگې او فعالیتونو تړل یوه سخته پرېکړه وه، خو دوی بله لار نه لرله. د سرچینې په خبره: «د دشت برچي روغتون د زېږنتون په ځانگه کې د ام اېس اېف د فعالیتونو پایته رسولو پرېکړه اړینه، خو له درده او په سیمه کې د یو میلیون څخه ډېرو وگړو لپاره له پایلو ډکه پرېکړه ده.»

د بې پولې ډاکترانو ټولنه وايي چې په دغه روغتون کې تېر کال شاوخوا ۱۶۰۰۰ زېږونونه (ماشومان زېږول) شوي او دې ته په کتو، دا ځانگه د سیمې اوسېدونکو او خلکو ته ډېره ارزښتناکه وه.

دغې ټولنې ویلي چې لوی امنیتي دېوالونه او خنډونه د دا ډول بریدونو مخه نشي نیولې او دوی پرېکړه وکړه چې فعالیتونه ختم کړي چې د اعلامیې له مخې، د دوی موجودیت له کبله نورو انسانانو ته زیان ونه رسیږي.

د دغې ټولنې په اعلامیه کې همداراز ویل شوي چې دوی په برید کې د وژل شویو او ژوبل شویو کسانو له کورنیو سره د مرستو په کولو هم فکر کوي.

# په بیجینګ کې د کرونا وبا نوې څپه او پر وړاندې یې چټک او غوره اقدامات



لیکواله: زرینه
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله

د چین په پلازمېنه بیجېنګ کې د جون له ۱۱ مې څخه تر ۱۴ مې پورې د کووېډ-۱۹ ویروس ۵۱ نوې مثبتې پېښې ثبت شوي او د پلټنې نتیجه ښیي، چې یادې ټولې پېښې د شین فا دي په نوم د خوراکي توکو مارکېټ سره تړاو لري او دغه مارکېټ اوس تړل شوی دی.
دا په داسې حال کې ده چې په تېرو څه باندې ۵۰ ورځو کې په بیجېنګ ښار کې د کرونا هېڅ پېښه نه وه رامنځته شوې.
شین فا دي مارکېټ د ۱۹۸۸ ز کال د مې په ۱٦ مه پرانیستل شوی او په اسیا کې د خوراکي توکو د پېر او پلور تر ټولو لوی مارکېټ دی.
دغه مارکېټ ۱۱۲۰ زره متره مربع پراخوالی لري او څه باندې ۱۵۰۰ کارکوونکي یې چارې سمبالوي. د بیجېنګ اوسېدونکي د ورځني ژوند ۸۰٪ اړین توکي ( مېوه، سبزي، کبان، شریم، غوښه، هګۍ او دیګ مسئله) له همدغه مارکېټ څخه اخلي او سیمه ییز خلک یې د سبزۍ ټوکرۍ او د مېوې قاب بولي.
ولې شین فا دي مارکېټ د وبا د روانې څپې منشا ګڼل کېږي؟
د چین د ناروغیو د مخنیوي او کنټرول مرکز د ساري ناروغیو پوه وو ځون یو وایي، په مارکېټ کې د توکو په زېرمتون کې ټيټه تودخه او ګڼه ګوڼه ښایي د وبا د روانې څپې سبب وي.
لومړی: کووېډ-۱۹ ویروس په ټيټه تودوخه کې په اسانۍ ژوندی پاتې کېدای شي، په مارکېټ کې ډېر خوراکي توکي په تېره بیا سمندري خواړه په یخچالونو کې ساتل کېږي او دغسې چاپېریال د یاد ویروس د ژوندي پاتې کېدو لپاره مناسب دی.
دویم: دغه مارکېټ ته هره ورځ ګڼ شمېر کسان تګ راتګ کوي، که له دغو کسانو څخه یو کس هم پر ویروس اخته وي او له پیدا کېدو پرته یاد مارکېټ ته ننوځي، نو له هغه څخه ویروس په اسانۍ سره نورو ته انتقالیږي.
د بیجېنګ ښار د ناروغیو د مخنیوي او کنټرول مرکز د کرونا وبا پر وړاندې د مبارزې د کارپوهانو ډلې غړی یانګ پنګ وایي، د طبي کارپوهانو د پلټنې نتیجه ښیي، چې یاد ویروس له اروپا څخه راغلی، خو د راتلو څرنګوالی یې معلوم نه دی، ښایي بیجېنګ ته له اروپا څخه د ویروسونو د ککړو سمندري خواړو یا غوښو په لېږدولو سره انتقال شوی وي او یا مارکېټ ته د ناروغانو د ننوتلو له امله یاد ویروس خپور شوی وي.
د وبا د روانې څپې پر وړاندې د بیجېنګ ښاروالۍ د مبارزې اقدامات
د بیجېنګ ښاروالۍ د جون د ۱۵ مې د سهار تر لسو بجو پورې له هغو ۲۹۳۸٦ کسانو څخه نمونې واخیستې، چې په تېرو ۱۴ ورځو کې شین فا دي مارکېټ ته تللي دي.
تراوسه له یادو نمونو څخه د ۱۲۹۷۳ نمونو ټېسټ بشپړ شوی او د ټولو نتیجه منفي راغلې ده. دغه راز د جون په ۱۴ مې په دغه ښار کې د ۷٦۴۹۹ اوسېدونکو معاینه ترسره شوې او یکې ۵۹ مثبتې پېښې مثبتې ثبت شوې دي. برسېره پر دې، بیجېنګ ښاروالۍ دا مقررات هم اعلان کړي، چې هره مثبته پېښه باید له پیدا او تشخیص کېدو وروسته دوو ساعتونو کې په انلاین ډول ثبت او خبر ورکړل شي او د هرې نمونې د معاینې نتیجه باید په ۱۲ ساعتونو کې ورکړل شي، که د کوم کس نتیجه مثبته راغله، باید په ۲۴ ساعتونو کې ټول هغه کسان پیدا شي چې له یاد کس سره یې نږدې ناسته پاسته کړې وي.
د یاد مارکېټ له تړل کېدو وروسته د بیجېنګ اوسېدونکو لپاره خواړه څنګه تامینېږي ؟
بېجینګ ښاروالۍ ۵ لنډمهاله مارکېټونه جوړ کړي دي. په ۲۰۰۳ ز کال کې هم همدغه ښار د سارس وبا شاهد و، له هغې وبا وروسته بیجېنګ ښار د بېړنیو پېښو پر وړاندې د خلکو د خوړو تامینولو میکانیزم جوړ کړی، چې له مخې یې له نورو ځایونو څخه سبزۍ او نور خوراکي توکي په موټرونو کې د خلکو استوګنیزو سیمو ته لېږدول کېږي چې په دې سره د خلکو ژوند تامینېږي.
د شانګهای ښار د هوا شان روغتون د ساري ناروغیو څانګې مشر ډاکټر جانګ ون هونګ ( چې د کرونا ویروس د پېژندلو په اړه یې کتابونه د نړۍ په ډېرو ژبو ترجمه شوي) وایي چې شین فا دي مارکېټ ته هره ورځ ګڼ شمېر خلک تګ راتګ کوي او په داسې حال کې د وبا د روانې څپې مخنیوی او کنټرول اسانه کار نه دی، خو بیجېنګ ښاروالۍ بیا هم په دې برخه کې چټک، کره او تفصیلي اقدامات غوره کړي، هغه واټونه او سیمې چې مثبتې پېښې پکې پیدا شوي، ژر یې کرنتین کړي او کلک محدودیتونه یې لګولي دي او د دې ترڅنګ هغه ځایونه چې ناروغان او د ویروس د خپرېدو خطرونه پکې نشته، ټولنیز ژوند عادي روان دی.
نوموړی په دې اند دی، چې په راتلونکې یوه اوږده موده کې ښایي د نړۍ په بېلابېلو ځایونو کې د وبا څپې بیا بیا پورته شي، چین نه شي کولای چې همېشه ځان کرنتین کړي، چین او د اسیا نور هېوادونه به ګام پر ګام خپل محدودیتونه نرم کړي او لنډه دا چې د روانې وبا پر وړاندې د بیجېنګ ښاروالۍ د مبارزې اقدامات د نورو ځایونو لپاره یوه ښه بېلګه ده.

# شېر شاه سوري جومات؛

## دیني عالمان: حکومت وضاحت نه ورکوي، پېښه له شکونو او ابهاماتو ډکه ده



په کابل کې د شېرشاه سوري په جومات کې له چاودنې څلور ورځې تېرېږي، خو تر اوسه حکومت په دې اړه رسنیو ته معلومات نه دي ورکړي.
په دغه جومات کې د چاودنې له امله د وژل شوو کسانو نږدې خپلوان وایي چې حکومت لا هم پېښه مبهمه پرې ایښې ده او چا ته یې په اړه معلومات نه دي ورکړي.
بلخوا کورنیو چارو وزارت وایي چې د پېښې په تړاو یې درې کسان نیولي دي. د سیمې اوسېدونکي بیا وایي چې دا د جومات کارکوونکي او خادمین دي. بلخوا ولسمشر غني بیا د کابینې په غونډه کې پر امنیتي ادارو غږ کړی چې د جوماتونو او دیني علماوو امنیت تامین کړي.
تېره جمعه د جمعې د لمانځه پر مهال په کابل ښار کې د شېرشاه سوري په جومات کې چاودنه وشوه. په دغه پېښه کې د دغه جومات د خطیب مولوي عزیز الله مفلح ترڅنګ درې نور لمونځ کوونکي هم ووژل شول. تر اوسه د دغې پېښې مسوولیت کومې ډلې نه دی منلی. بلخوا د مولوي عزیز الله مفلح د کورنۍ غړي وایي چې حکومت دغه پېښه مبهمه ساتلې ده او باید په اړه یې وضاحت ورکړي. د مولوي مفلح یو شمېر مقتدیانو بیا کابل نیوز ته ویلي چې پېښه مخکې له مخکې پلان شوې ښکارېږي. د دوی په خبره، له یوې خوا حکومت پېښه مبهمه پرې ایښې ده او له بلې خوا له پېښې سره جوخت سیمې ته امبولانسونه رسېدلي چې دا د هر څه په اړه شکونه پیدا کولی شي.
د دغه جومات کارکوونکي او د مولوي مفلح مقدتیان پر حکومت نیوکه کوي چې د څلورو ورځو په تېرېدو لا هم دوی د معلوماتو په خپرولو بریالي نه شول. مولوي محمد نشان د مولوي مفلح د کورنۍ غړی دی، هغه وایي، د حکومت چوپتیا دوی ته هم د اندېښنې وړ ده او دا خبره هم مبهمه ده چې دغه برید چا کړی او ولې یې کړی دی. د ده په خبره: ((حکومت باید دا پېښه وپلټي. زموږ د شهید قاتل باید پیدا کړي. موږ باید پوه شو چې دا کار چا کړی دی او ولې یې کړی دی)).
دیني عالم سیدالرحمن نیازی هم وایي، چې د هر څه مسوول حکومت دی. د ده په خبره، دا د حکومت مسوولیت دی چې پېښه روښانه کړي او موږ ته ووایي چې تر شا یې د چا لاس دی. د ده په خبره: ((دا نوموړی طالب او داعش چې د خلکو په خوله دي، دوی یې مسوولیت نه دی منلی. دا چا نه دي ویلي چې ولې او څنګه یې دا کار کړی دی. اوس مسوول حکومت دی. دوی باید واضح کړي چې دا کار د چا دی او ولې یې په مخنیوي کې ناکام شوي دي)).
بلخوا په جومات کې د پېښې عیني شاهدان او د مولوي مفلح مقتدیان وایي، دا پېښه ډېره مشکوکه ده او ډېره پلان شوې ښکارېږي. د دوی په خبره، له چاودنې لا دوې یا یوه دقیقه هم نه وه تېره چې سیمې ته امبولانسونه را ورسېدل او د ټپیانو په ټولو یې پیل وکړ. د ده په خبره: ((دوې یا درې یا یوه دقیقه به نه وه وتلې چې بیا امبولانسونه را ورسېدل. هر څه یو ډول پلان شوي ښکارېدل. اوس باید له حکومت پوښتنه وشي چې دا څه کیسه وه)).
مولوي سیدالرحمن بیا وایي چې حکومت د دیني علماوو د امنیت په تامین کې ناکام دی. د ده په خبره، په تېر یوه کال کې په هېواد کې په بېلو بېلو ٦۷ دیني عالمان وژل شوي دي، خو حکومت یې په اړه وضاحت نه دی ورکړی او نه یې هم د پېښو پلټنه کړې ده. د ده په خبره، حکومت باید د دې هر څه لپاره واضح او ښکاره ځواب ووایي چې ملت قانع شي.
بلخوا ولسمشر غني تېره ورځ د کابینې په غونډه کې امنیتي او دفاعي ادارو ته لارښوونه کړې چې د علماوو او جوماتونو د امنیت لپاره دې جدي اقدام وکړي. د ده په خبره، د نورو ښاریانو ترڅنګ باید د دیني علماوو امنیت د امنیتي ادارو لپاره لومړیتوب وي.

■ ■ ■

د کرونا ویروس چټکه پراختیا؛

# په ټوله نړۍ کې د دغه ویروس مثبتې پېښې له اتو میلیونو واوښتې



د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر اته میلیونه او ٦٦ زره او ۴٦۵ ته ورسېد. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۴۳۷ زره او ۲۹۵ کسان مړه شوي او له څلورو میلیونو زیات ښه شوي دي.
د دغو شمېرو له مخې، امریکا د ۲.۱۷ میلیونو مثبتو پېښو او ۱۱۸ زره او ۱۲۱ قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. له امریکا وروسته برازیل د ۸۷۳ زره او ۹٦۳ مثبتو پېښو له کبله دویم، روسیه د ۵۳۷ زره او ۲۱۰ مثبتو پېښو په درلودو سره درېیم، هند د ۳۴۲ زره او ۸۴۱ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او برېټانیا د ۲۹٦ زره او ۸۵۷ مثبتو پېښو په درلودو سره پنځم، هغه هېوادونه دي چې د یاد ویروس زیاتې پېښې پکې ثبت شوې دي.
په ورته وخت کې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین ویلي، چې هېواد یې د امریکا په پرتله له کرونا ویروس سره ښه مبارزه کړې او په هېواد کې یې د کرونا ویروس پېښې کمې دي. پوتین دغه څرګندونې داسې مهال کړې چې په روسیه کې د کرونا ویروس د اصلي شمېرو په اړه ځینې پوښتنې مطرح شوې دي.
بلخوا ډېر اروپایي هېوادونه په یوه بیساري اقدام کې خپلې پولې د نورو اروپایي هېوادونو پرمخ بېرته پرانېزي. دغه پولې د کرونا ویروس د خپرېدو له امله له دریو میاشتیو راهیسې د لګول شویو محدودیتونو پر مهال تړلې وې.
د دغو هېوادونو له ډلې جرمني، بلجیم، فرانسه، یونان او چک جمهوریت پرون خپلې پولې پرانیستې او اتریش هم نن دا اقدام کوي. د اروپا ګڼ هېوادونه خپلې پولې په داسې حال کې پرانېزي، چې اروپايي کمېسیون تېره اونۍ د دې ټولنې غړیو هېوادونو ته سپارښتنه کړې وه، چې تر ممکنه حده خپلې پولې بېرته پرانېزي.
د پولو پرانیستل تر ډېره د اروپایي ټولنې، برېټانیا او د شینګین حوزې د غړیو هېوادونو پر اتباعو اغېز کوي، خو د دغو پولو له پرانیستلو سره- سره، هر هېواد د کرونا ویروس د آزموینې، قرنطین او د سفر کولو د ځانګړو سپارښتونو په ګډون ځانته مقرارات پلي کوي. د اوس لپاره هغه کسان چې له اروپایي ټولنې بهر دغې لویې وچې ته سفر کوي، باید اروپا ته د داخلېدو لپاره انتظار وکړي.

## د کتاب خبرې


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◉ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◉ ژباړن: علي‌الله متوکل

**دویمه برخه**

**یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایي**

**نهم څپرکی**




**د مالیې ګټې او ترې اخیستل شوی درس**

هغه خلک چې نوي شبکه یي بازارموندنې ته راځي، زیات یې د مالیاتي ګټې د ارزښت او کورني تجارت ورته والي ته ګوته په غاښ کېږي.

شتمن خلک معمولاً ځینې مالیاتي ګټې لري چې نور خلک یې نه لري. ډېرو خلکو د دې ګټو په اړه اوربدلي؛ خو دوی ټول عمر په تنخوا لرونکې دنده اخته وي، نو د دې ګټې په ځانګړي مفهوم او څرنګوالي نه پوهېږي. کله چې وپوهېږي چې موږ هم د شتمنو په څېر د دې تجارت له پیل کېدو سره سم ګټه کولای شو، نو حیران شي.

د مالیاتي پالیسیو له وروستیو بدلونونو سره، د کوچنیو او ازادو کاروبارونو لپاره بېلا بېلې بیمې منځته راغلې. ستاسو شخصي ګټې تر بل هر وخت ښې شوې. ان د لویو شرکتو تر ګټې هم زیاتې شوې. د خپلې دندې ترڅنګ په اضافي وخت کې د شبکه یي بازارموندنې د کاروبار په پیل کولو به د شتمنو خلکو په څېر مالي ګټې وکړئ. څوک چې په خپل اضافي وخت کې کاروبار ولري، کولای شي تر تنخوا لرونکو هم په خپلو مالیاتو کې زیات کموالی راولي.

که تاسو په خپل کور کې شبکه یي بازارموندنه پیل کړئ، نو د کور او دفتر، د موټر او تېلو، د کور د کمپیوټر، انټرنیټ او ټلیفون، د سفر او هوټل او شخصي تولیداتو قانوني مالیه به مو کمه شي. دا شیان مې دلته یوازې د بېلګې لپاره ذکر کړل، که تاسو غواړئ مالیه مو کمه شي، نو خپله له مسلکي کسانو سره په تماس کې شئ.

مثلاً، تاسو کولای شئ چې د موټر مصرف، تېل، خواړه او تفریحګانې له مالیاتو کم کړئ. البته یو مسلکي محاسب ته اړتیا لرئ چې مشوره درکړي. تر مشورې وروسته به پوه شئ چې د محاسب د پیسو په مالیه کې به هم کمښت راغلی وي.

د شبکه یي بازارموندنې د کاروبار یوه ګټه دا ده چې پټ رازونه راسپړي او د B کونج یانې د شرکتونو د خاوندانو په خوا کې ژوند کول درښیي.

زما موخه دا نه ده چې د یوه نوي جوړ شوي کاروبار د مالي کمښتونو د ګټو په اړه معلومات درکړم، بلکې غواړم دې نکتې ته مو متوجه کړم چې زیات خلک په B کونج کې د ژوند کولو فکر نه لري.

زیاتره خلک فکر کوي چې د B کونج خلک یا د لویو شرکتونو خاوندان په بله سیاره کې ژوند کوي. په همدې خاطر، کله چې د دوی له مالي ګټو څخه خبر شي، نو حیران پاتې شي. ټکان وخوري. د شبکه یي بازارموندنې د کاروبار یوه ګټه دا ده چې پټ رازونه راسپړي او د B کونج یانې د شرکتونو د خاوندانو په خوا کې ژوند کول درښیي.

**د ریښتیني ژوند کاروباري زده کړې ته ښه راغلې!**

**د ژوند مهارتونه**

کله چې د کاروباري بریا خبرې کوو، نو د تخنیکي مهارتونو اړتیا نه لیدل کېږي. د ژوند هغه مهارتونه تر دې ډېر اړین دي چې د لویو شرکتونو د خاوندانو ژوند پکې اټکل کېږي. د ژوند مهارتونه تر تخنیکي مهارتونو اړین دي. په ژوند کې د اوږدمهاله بریا لپاره زده کړه، مهارتونه، د ژوند تجربې او تر ټولو زیات ستا ځانې کره وړه اړین دي.

مثلاً، ما باید پر ځان شک کول، شرمېدل او د وېرې له منځه وړل زده کړي وای. تر ناکامۍ وروسته بېرته پر پښو درېدل د شخصي پرمختګ یو بل مهارت و چې باید زده کړې مې وای. تر هرې ماتې وروسته باید راپورته شم. تاسو د B کونج یا تجارت په کوم کار اخته یاست؛ په شبکه یي بازارموندنه، فرنچایز او که په تشبث، دا هېڅ اړینه نه ده. هرڅوک چې په B کونج کې بریا غواړي، دغه شخصي مهارتونه باید ولري.

که دغه شیان تا ته په ښوونځي کې نه در ښودل کېږي، په کار کې یې هم نه زده کوې او د کور په چاپېریال کې هم نه یې ورسره اشنا شوی، نو چېرته یې زده کوې؟ د نړۍ په کومه ګوښه کې به داسې تجارت پیدا کړې چې هم ستا زده کړه او شخصي پرمختګ زیات کړي او هم دې تجارت بریالی کړي؟

مه وارخطا کېږه! د بازارموندنې شبکې دغه مرسته خامخا درسره کوي.


جان: رابرټه! دا ډېره جالبه ده چې ته په خپل تجارت کې کاروباري زده کړې تر ټولو اړینې ګڼې. فکر کوم په دې برخه کې زیاته وړتیا هم لرې. ډېر خلک په شبکه یي بازارموندنه کې هغه مهارتونه او شخصي وړتیاوې ترلاسه کوي چې په بل هېڅ شي کې یې نشې ترلاسه کولای.

شبکه یي بازار موندنه تاسو ته د وېرې له منځه وړل، اړیکې ساتل، د هغو خلکو روان چې د «نه» منفي ځواب وایي او د ردولو او ننګونو په مقابل کې د درېدو لاره درښیي.

**دوام لري...**

# جک کروواک

◀ شفیق امیرزی



جک کروواک امریکایي لیکوال دی، چې د خپل وخت د لیکوالانو د اصولو پر خلاف یې لیکل وکړل. هغه په شلمه پېړۍ کې په امریکا کې خورا مشهور شو. د شهرت لامل یې هم د هغه داسې لیکوالي وه چې د امریکایي ځوانانو او هغه مهالني نسل خوښه شوه. د دې تر څنګ هغه د یاغي طبعې لرونکی کس و، انساني ژوند ته یې درناوی درلود، خو قوانین او د امریکا ځینې ظالمانه کړنې یې غندلې. د ده د لیکوالۍ له امله د بیټ په نامه یو بهیر رامنځ ته شو. د دې بهیر ملاتړو ځوانانو او لیکوالانو په ځانګړې سبک لیکنې کولې، د ځینو سیاستونو مخالفت یې کاوه او ان د ویتنام د جګړې پر ضد د امریکایي حکومت پر وړاندې ودرېدل.

جک کروواک په امریکایي ادبیاتو کې په شلمه پېړۍ کې وتلی نوم دی، هغه د شهرت اوج ته ورسېد، خو په ۱۹۶۹ز کال کې د اکتوبر په ۲۱مه داسې مهال چې هر امریکایي لوستی یې له نامه سره اشنا و، ومړ. هغه له بودایي مذهب او اصولو سره مینه لرله، د ذند له نصیحتونو سره بلد و، له همدې امله یې ملګری آلن ګینز برګ ده ته د امریکایي نثر بودا وایي. ده هڅه کوله چې د مدرنیز له وحشیانه پرمختګ سره مقابله وکړي. وحشیانه پرمختګ په دې مانا چې د انسان لپاره یې انساني ژوند غوښت، نه د نورو ځپل، وژل او له منځه وړل. له همدې امله یې د بیټ نسل لیکوالان رامنځ ته کړل. دا نسل لیکوالان د ده پلویان وو، انساني ژوند یې ازاد، خو نرم غوښت، نه له جګړو او بې پروا پرمختګونو ډک.

جک د ۱۹۲۲ز کال د مارچ په ۱۲مه له فرانسوي او کاناډایي مور او پلار زېږېدلی دی. پلار یې په سن هربرت کې د کچالیو د بزګرانو په یوه کورنۍ کې زېږېدلی او لوی شوی و. جک په لومړي سر کې په فرانسوي ژبې خبرې کولې، خو وروسته په شپږ کلنۍ کې دې ته اړ شو چې انګلیسي ژبه زده کړي. د عمر تر پایه دی په دې بریالی نه شو چې په انګلیسي ژبه سمې روانې او پرته له کوم مشکله خبرې وکړي. ده ځینې شعرونه په فرانسوي ژبه لیکلي، خو ناولونه یې په انګلیسي ژبه دي. دی د خپل بزګر پلار په کور کې وزېږېد، یو بل ورور او خور یې هم لرل. دی څلور کلن و چې اته کلن ورور یې د یوې ناروغۍ له امله ومړ او د ده پر رواني وضعیت دې مسئلې ژور اغېز پرېښود. خور یې دی نازاوه او د ده په روزنه کې یې ونډه اخیسته.

مور یې کاتولیک مسیحي وه، له همدې امله یې پر خپل زوی جک هم فشار راوړ چې پر دې مسایلو ژوره عقیده ولري. ده ته به یې زده کړې ورکولې او دیني مسایلو ته یې هڅاوه. هغه وایي، یوازینۍ ښځه چې په نړۍ کې ورباندې ګرانه وه، مور یې وه، بل هېڅوک په ژوند کې ورباندې ګران شوی نه دي. دی اته کلن و چې ادعا یې وکړه، خدای ورته ویلي چې ښه اروا لري، خو ژوند به یې له بدمرغۍ ډک وي. د ده په خبره، دی پوهېږي چې په ژوند کې به خوشالي ونه لري، خو په پای کې به هر څه سم شي. هغه په ماشومتوب او تنکۍ ځوانۍ کې له فوټبال سره مینه لرله او دغه سپورت ته یې مخه کړه. په مذهبي لحاظ یې وروسته په ځوانۍ کې د خپلې مور د مذهب او بودیزم په اړه ډېره مطالعه وکړه، خو بودیزم یې خوښ و او د هغه انساني پیغامونه ورته ښه ښکارېدل. د ده په اثارو کې د دغه مذهب د مطالعې اغېز له ورایه ښکاري او ټل یې خلک نرمښت او ارامۍ ته رابللي دي.

ما مخکې هم وویل چې دوی د بیټ په نامه د لیکوالانو او ځوانانو یو غورځنګ یا بهیر رامنځ ته کړ. آلنګ ګینزبرګ د جک نږدې ملګری و او د جک تر مرګ وروسته یې دېرش کاله نور هم ژوند وکړ. دی وایي، د بیټ په نامه کوم غورځنګ نه و موجود، بلکې دوی هسې سره کېناستل او دا پرېکړه یې وکړه چې خپل بهیر به مدیریت کوي، خو رسنیو ورپسې وتړله چې دوی د بیټ غورځنګ دی او تر همدې عنوان لاندې فعالیت کوي. د بیټ نسل د لومړي ځل لپاره د جک کروواک له لوري په ۱۹۴۸ ز کال کې وکارول شو. د دې کلیمې د کارولو وړاندیز هربرت هانک ورته کړی و. په دې حلقه کې د پوهنتون استادان، لیکوالان، ځوانان او نورو شاعران راټول شوي وو. دوی بیټ کلمه د هغه چا لپاره کاروله چې پیسې یې نه لرلې، کوم لیدلوری یې نه درلود او د ژوند له مسایلو ستړي وو. دا کلمه په امریکا کې هم د ستړي او ټوټې ټوټې په مانا کارول کېږي.

هغه له فوټبال سره مینه لرله، خو یو وخت یې له فوټبال او پوهنتون دواړو سره مخه ښه وکړه او پرې یې ښودل. له هغې وروسته یې په نیویارک کې ژوند پیل کړ. دلته له خپلې مېرمنې ادې پارکر سره بلدېږي، د دوی ترمنځ اړیکې پخېږي او له هغې سره واده کوي. په همدې وخت کې له ځینو ځوانو لیکوالانو سره هم بلدېږي او په ګډه بیا وروسته وروسته د بیټ نسل غورځنګ بنسټ ږدي. له دوی سره ژورې اړیکې پالي، هر یو یې پر ژوند اغېز کوي او له دې ډلې کسانو ډېر یې وروسته د جک د ناولونو کرکټر هم دي. نیل کاسدي، جان کلون، هبرت هوک،، لوسین کار، ویلیام او نور هغه کسان وو چې دی په نیویارک کې ورسره معرفي او ملګری شو.

کروواک په ۱۹۴۲ز کال کې د امریکا له سمندري پوځ سره یو ځای شو. په ۱۹۴۳ز کال کې یې د روزنو تر بشپړېدو وروسته عملي کار پیل شو خو، یوازې اته ورځې یې په دغه پوځ کې فعالیت ترسره کړ. په اتمه ورځ هغه سردرد کېږي، له ډاکټرانو دوا غواړي، دوی یې لا ډېرو معایناتو ته معرفي کوي خو وروسته وروسته دوی په خپل راپور کې لیکي چې د هغه روغتیایي وضعیت په پوځ کې د دندې ترسره کولو لپاره مناسب نه دی. همدا دی چې پوځ پرېږدي او بېرته خپلو ملګرو ته راګرځي.

ده په امریکایي پوځ کې د دندې او کار پر مهال خپل لومړنی ناول هم لیکلی و. د کتاب نوم یې (سمندر زما ورور دی) و، خو دا کتاب هغه مهال چاپ نه شو. کتاب په ۱۹۴۲ز کال کې لیکل شوی و، خو ان په ۲۰۱۱ز کال کې د کروواک تر مرګ لسیزې وروسته چاپېږي. هغه په دې کتاب کې نابرابرۍ، ستونزې، ناهیلۍ او د خپل ژوند ناخوالې بیان کړې دي.

جک کروواک په امریکا کې د بیټ نسل سرلاری و. دوی له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۵۰ز کال کې فعالیت پیل کړ. دغه ډلې غوښتل په ټولنه کې د شته ناوړه دوددونو، ځینو اصولو، ارزښتونو، جنسي مسایلو او ټولنیزو ستونزو پر وړاندې ودرېږي. دوی د خپلو تجربو یوه برخه موسیقي ته هم یوړه، هلته یې هم مینه وال لرل، د موسیقي کاروونکو به ددوی شعرونه زمزمه کول او خلکو ته یې رسول. کروواک له خپلو ملګرو سره ډېر وخت د موسیقي په اورېدو، سندرو، شعرونو، کله کله په نشو تماشو تېراوه. دی او دوستان یې په امریکا کې د بیټ نسل مشهورې څېرې وې. په حقیقت کې جک لومړنی کس و چې د بیټ کلیمه یې د خپلو ملګرو او فکر د تعریف لپاره وکاروله. دوی په همدې لړ کې د (پر لار) ناول خپور کړ. دغه ناول جک کروواک لیکلی و او په هغه کې یې د خپل ژوند ټول مسایل را اخیستي وو. د کتابونو کتونکو له جک ډېرې پوښتنې وکړې او ده یې هم ځوابونه ورکړل. کتاب ډېر مینه وال پیدا کړل، د لوستونکو تر څنګ یې ان د هغه وخت د ډېرو لیکوالانو پر سبک خپل اغېز پرېښود.

(په لار یا په سړک کې ) ناول جک په درېیو اونیو کې ولیکه. دا کتاب داسې مهال لیکل شوی و چې لیکوال یې ډېر بېوزله او بې پیسو و. خو بیا یې هم ساعتونه له خپلو ملګرو سره په عیاشۍ تېرول. دی یو وخت پرېکړه کوي چې له خپلو ملګرو سره د امریکا بېلو برخو ته سفرونه وکړي. د ۱۹۴۷ او ۱۹۵۰ز کلونو ترمنځ کلونه د کروواک په ژوند کې مهم دي، ځکه په همدې وخت کې یې په ژوند کې ډېر تحولات راځي او دی د امریکا ځینو برخو ته سفرونه کوي. دی له خپل یوه ملګري نیل کسدي سره د امریکا غرب او جنوب ته سفر کوي، چې بیا د همدې سفر له کیسو او لوړو ژورو خپل دغه مشهور ناول هم لیکي. په لومړي سر کې یې په ناول کې د کرکټرونو اصلي نومونه راوړي خو بیا یې د ملګرو په ټینګار ددې ناول د کرکټرونو نومونه مستعاروي او د خپلو ځینو ملګرو ترې لرې کوي.

پر لاره ناول د کروواک د شخصي خاطرانو پر بنسټ لیکل شوی و. هغه وخت یې لیکلی و چې د امریکا ډېرو برخو ته یې سفرونه وکړل. هغه یادښتونو د ناول په لیکلو کې ډېره مرسته ورسره وکړه چې د سفر پر مهال یې اخیستي وو. شپږ کاله یې وخت ونیو چې دغه ناول ته ناشر پیدا شي او هغه چاپ کړي. خو همدا چې خپور شو د لوستونکو له خورا تاوده هرکلي سره مخ شو. همدې ناول ډېرې ګټې ورته وکړې چې کروواک یې یو څه شتمن کړ. ده یوازې منثورې لیکنې نه کولې، شعرونه یې هم لیکل. له شعرونو سره به یې موسیقي هم غږوله. ده په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ کلونو کې د شعري محفلونو لکه رنسانس سانفرانسیسکو سره اړیکه لرله. ډېری هنرمندانو خپل البونونه دده ناولونو او شعرونو په نامه نومول. ان د جک تر مرګ وروسته هم شاعرانو او لیکوالانو غوښتل دده په څېر ژوند وکړي او دده په څېر ازاد او خپلواک وي.

بالاخره دغه مشهور امریکایي لیکوال د ګڼو شعري ټولګو او ناولونو تر لیکلو وروسته، د ۱۹۶۹ز کال د اکتوبر په ۲۱مه د داخلي خونریزۍ له امله ومړ. ډاکټرانو یې هم لامل له حد ډېر د نشه یي توکو څښاک او استعمال بللی و.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۴۰ |
| € | ۸۴,۹۰ |
| Rp. | ۴۷۰ |
| ₹ | ۹۸۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹۴,۴۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# په ګډ ژوند کې د تنوع را منځته کول او له یوه اړخیز ژوند څخه وتل

ژباړه: عطا محمد میاخېل

په دې مقاله کې تاسو په ژوند کې د تنوع د رامنځته کولو له ډول سره آشنا کوو او د دې کار لپاره د ډېرو لارو وړاندیز کوو، نو له تاسو څخه غوښتنه کېږي، چې دا مقاله له پیله تر پایه په ښه غور او دقت سره ولولئ.

باید پر دې باندې پوه شئ چې یو ډول ژوند کولای شي، ګډ ژوند له طلاق سره مخ کړي، خو کولای شی په ډېرو ساده تګلارو سره دا ژوند له یو اړخیزتوب څخه را وباسئ او خپل ژوند ته هیجان او انګېزه بېرته را وګرځوی. لاندې له یو اړخیزوالي څخه د ژوند د بهر کولو لپاره ځینې لارې چارې وړاندې شوي، چې کولای شي ستاسو لپاره ګټورې وي.

**په ژوند کې د تنوع را منځته کول**

که داسې احساس کوی چې په ژوند کې په کافي اندازه خوشاله نه یاست او د ژوند لپاره کافي انګېزه نه لری، نو وخت یې را رسېدلی چې په خپل ژوند کې د تنوع د رامنځته کولو لپاره هڅې وکړی. باید پر دې پوه شئ، چې کولای شی د خپل ژوند له شریک څخه مرسته وغواړی ترڅو په دې لاره کې له تاسو سره ملتیا وکړي او د یو بل په مرسته وکولای شی، خپل ګډ ژوند ته بدلون ورکړی.

په دې برخه کې باید پوه شئ، چې ستاسو کوم یو چلند کولای شي، د ژوند شریک مو او حتا تاسو خپه کړي، ترڅو وکولای شی بدل یې کړی. په حقیقت کې په دې کار سره کولای شی، خپل ژوند ته بدلون ورکړی او دغه راز کولای شی چې د خپل ځان لپاره ژوند ښکلی کړی او ترې خوند واخلی.

د دې لیکنې په دوام د تنوع د رامنځته کولو لپاره په ځینو کارونو باندې رڼا اچول کېږي. باید په ګډ ژوند کې حسادت پرېږدئ.

**بالغ شئ!**

غوره ده چې بالغ شئ او د هغوی په څېر چلند وکړئ؛ ځکه بالغ افراد کولای شي چې په ښه توګه تصمیم ونیسي او د خپل ژوند مسوولیتونه په سمه توګه ترسره کړي.

- باید د خپل ژوند شریک ته درناوی وکړئ؛ ځکه هغه اړتیا لري، چې ورته درناوی وشي.

- باید د خپل ژوند د شریک غوښتنې ومنئ او د هغه شخصي حریم ته درنښت وکړئ؛ ځکه دا حد او بریدونه کولای شي چې ژوند مو ډېر زیات جذاب کړي او له یو اړخیزوالي څخه وژغورل شی.

**د هویت خوندیتوب**

- باید وکولای شی چې خپل جلا هویت خوندي کړی.

- باید پر دې پوه شئ چې خپلواک افراد دا درک کوي چې یوه وخت ته اړتیا لري، چې له نورو څخه جلا واوسي او په یوازېتوب کې د خپل ځان او خپلو کارونو په اړه فکر وکړي.

- په حقیقت کې هره جوړه دې کار ته اړتیا لري، ترڅو د یوې لنډې مودې لپاره له یو بل څخه جلا واوسي.

- باید پوه شئ چې دا سالمې اړیکې دي او کولای شي له تاسو سره د هویت په خوندیتوب کې مو مرسته وکړي.

**تړلی/تړلې مه اوسئ**

- غوره ده چې د خپل ژوند په شریک پورې له بریده زیات تړلی/ تړلې ونه اوسئ؛ ځکه دا موضوع کولای شي چې د ګډ ژوند د یو اړخیزتوب سبب شي.

- باید پوه شئ چې د ژوند شریک مو نه شي کولای چې ټول هغه کارونه چې تاسو یې غواړی، ترسره کړي او د جادویي لرګي په څېر مو ټولې هیلې پوره کړي.

**له فعالیتونو څخه خوند اخیستل**

- باید پوه شئ، چې تاسو او د ژوند شریک مو نه شی کولای چې له ګډو فعالیتونو څخه خوند واخلئ.

- غوره ده چې په ژوند کې د تنوع د رامنځته کولو لپاره هغه کارونه چې خوښېږي مو، ترسره یې کړئ، حتا که د ژوند د شریک مو نه خوښېږي.

- ښه ده چې په خپل ګډ ژوند کې د یوې سالمې اړیکې د رامنځته کولو لپاره له خپلو او د خپل ژوند د شریک له ګټو څخه دفاع وکړئ.

**ټولنیز اوسئ**

- باید پر دې پوه شئ، چې د ژوند شریک مو نه شي کولای چې ستاسو ټولې عاطفي اړتیاوې پوره کړي او په ټولنه کې ستاسو د اړتیاوو یوه برخه پوره شي.

- د دې لپاره چې په خپل ژوند کې له ستونزو سره لاس او ګرېوان نه شی، غوره ده چې له ټولنې څخه واټن وانه خلی او تر ډېره له خلکو سره په اړیکه کې اوسئ.

**خپل ارزښت**

ـکه په خپله اړیکه کې د نا امنۍ او مالکیت احساس ولری، نو له نورو څخه یو ګام شاته یاست.

- دا په ژوند کې د یوه بریالي کس چلندونه نه دي.

- په حقیقت کې غوره ده پوه شئ چې دا چلندونه کولای شي د ژوند د تنوع د کمښت سبب شي او جذابیت مو را کم کړي. دا چلندونه د دې سبب ګرځي، چې مینه او درناوی له منځه لاړ شي او تاسو ونه شی کولای چې خپل ژوند له یو اړخیزتوب څخه وژغورئ.

**د دوامداره اړیکې له منځه وړل**

- غوره ده چې د ورځې په اوږدو کې د خپل ژوند له شریک څخه واټن واخلئ او له اړیکو له لارو چارو لکه، چټ، ایمیل او انځوریزې اړیکې څخه، د اړیکې د ټینګښت لپاره ګټه وانخلئ.

- په حقیقت کې دا لارې کولای شي، ژوند مو یو ډول کړي او د شپې په وروستیو کې د ویلو لپاره څه ونه لرئ.

**عذر او زاری مه کوئ**

- د خپل ژوند له شریک سره د وخت تېرولو لپاره عذر او زاری مه کوئ.

- په پیل کې باید پوه شئ، چې د ژوند د شریک مو خوښېږي، چې له تاسو سره اړیکه ټینګه کړي یا نه، له دې وروسته کولای شی چې هغه ته ووایئ، چې یوه موده له یو بل سره و اوسئ.

- البته باید په دې باندې پوه شئ، چې د هغه وخت کیفیت ته چې له یو بل سره اوسی، پام وکړی او کمیت په پام کې مه نیسئ.

**د موخې ټاکل**

- د ژوند په هر پړاو کې چې یاست، کولای شی چې د خپل ځان لپاره موخه وټاکئ؛ ځکه له موخې پرته ژوند کومه مانا او مفهوم نه لري.

- باید په خپل ګډ ژوند کې هم موخه وټاکئ، دا کار کولای شي، تاسو ونګوي او په ګډ ژوند کې مو د تنوع د رامنځته کېدو سبب ګرځي.

- په پام کې ولرئ، چې موخې مو باید محدودې نه وي او باید سترې موخې ولرئ.

**له یوازېتوب څخه خوند اخیستل**

- د اړیکې لرل له تاسو څخه هغه خوند باید وانخلي چې کولای شی په یوازېتوب کې یې ولرئ.

- هېر مو نه شي چې تاسو ډېر وخت په یوازې توګه ژوند کړی او دا کار کولای شي یو ځل بیا ستاسو لپاره خوندور وي.

- کولای شئ پلې مزل وکړی او یا په یوازې توګه یو وېروونکی فلم وګوری او له دې کار څخه خوند واخلی.

**دوستان مو مه هېروئ**

- غوره ده چې د خپلو دوستانو لپاره هم یو وخت په پام کې ونیسئ او د خپل ژوند له شریک څخه هم وغواړئ، چې دا کار ترسره کړي؛ ځکه دوستان هغه کورنۍ ده، چې تاسو په خپله ټاکلې ده او دې کورنۍ له واده مخکې هم شتون درلوده، نو ښه ده چې هېره یې نه کړئ.

- خپل ژوند په یوه ځانګړي شخص پورې باید محدود نه کړئ؛ ځکه هغه شخص په یوازې توګه ستاسو د ټولنیزو ستونزو د حل کولو لپاره بسنه نه کوي او کولای شي، تاسو په اوږد مهالي خپګان باندې اخته کړي.

**د مهارتونو ښه کول**

- کولای شی په هغو کارونو باندې بوخت شی چې وکولای شئ خپلو مهارتونو ته ښه والی ور وبښی.

- کولای شئ د پخلي، ورزش او دې ته ورته چارو په یوه صنف کې نوملیکنه وکړئ او په خپل ژوند کې مثبت بدلونونه رامنځته کړئ او په خپل ژوند کې له یو اړخیزوالي څخه د بهر کېدو لپاره هڅه وکړئ.

**د اړتیاوو لپاره خبرې کول**

- کولای شئ د خپلو اړتیاوو د پوره کېدو لپاره له یو بل سره خبرې وکړئ.

- په حقیقت کې دا کار کولای شي، ستاسو لپاره ژوند ښکلی کړي او تاسو هم کولای شی چې د خپلو احساساتو په بیانولو سره خپل ژوند ته هیجان او خوند بېرته را وګرځوئ.

- غوره ده چې په اړیکه کې سکوت ونه کړئ؛ ځکه سکوت د ګډ ژوند یوه له سترې کوونکو برخو څخه ده.

- باید په پام کې ولرئ چې یوه سالمه اړیکه د دواړو لورو د اړتیاوو د ویلو لپاره مناسب حالت لري.

**د راتلونکې لپاره د پروګرام لرل**

- هغو موخو ته په نه پام سره، چې لری یې، باید د خپلې راتلونکې لپاره پروګرام جوړ کړئ.

- دا کار کولای شي، کارونو ته مو لوری ورکړي او تاسو د بېځایه کارونو له ترسره کولو څخه وژغوري.

- په حقیقت کې تاسو د بېځایه کارونو په ترسره کولو سره، خپل وخت بېځایه مصرفوئ او له اصلي کارونو څخه چې کولای شي تاسو خپلو موخو ته ورسوي، پاتې کېږی.


# لویه څارنوالي: د اطلاعاتو او فرهنګ له نوماند وزیر څخه د هغه د قضیې په تړاو څېړنې پیل شوي

لویه څارنوالي وایي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د نوماند وزیر طاهر زهیر نه یې د هغه د قضیې اړوند څېړنې پیل کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې ولسي جرګې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوماند وزیر طاهر زهیر چې له دې وړاندې د بامیان والي و، له دندې په ناوړه ګټنې، د تاریخي اثارو په قاچاق او غیر قانوني کیندنې او د پارلمان او لویې څارنوالۍ له هدایاتو څخه په سرغړونې تورن کړی او دوسیه یې لویې څارنوالۍ ته استولې ده.

د لویې څارنوالۍ ویاند جمشېد رسولي رسنیو ته په استولي غږیز پیغام کې ویلي، چې په دې اړه یې څېړنې پیل کړې او تر اوسه د دې قضیې اړوند هېڅ مسوولیت د بامیان پخواني والي ته راجع نه دی.

هغه وایي: «په دې برخه کې څېړنې شوي دي، تر اوسه د بامیان پخواني والي ته هېڅ مسوولیت راجع نه دی، خو بیا هم د څارنوالۍ څېړنې رواني دي، هر کله چې څېړنې بشپړې شي، څارنوالي به د قانون، اسنادو او شواهدو پر بنسټ حکم صادر کړي او د څېړنو ټوله پایله به هم خلکو رسنیزه شي.»



په ورته وخت کې د ولسي جرګې له خوا د طاهر زهیر په نوم، په جرمي بڼه جوړه شوې دوسیه کې ۱۰ مواردو ته اشاره شوې چې نوموړی یې پکې تورن پېژندلی دی.

د بامیان ښار ماسټر پلان څخه ناوړه ګټنه، د ځمکې غصب، د تاریخي اثارو قاچاق او غیر قانوني کیندنه، د اتباعو ترمنځ د مشارکت اصل ته پام نه کول او د پارلمان او لویې څارنوالۍ له احکامو څخه سرغړونه، د دې مواردو مهم ټکي دي. ولسي جرګې دغه راز له لویې څارنوالۍ څخه غوښتي چې دا قضیه په سم ډول وڅېړي.

د ولسي جرګې دویم منشي حجت الله خردمند ویلي، دوی طاهر زهیر او د سیمه‌ییزو ارګانونو خپلواکې اداري مرستیال د کورني امنیت کمېسیون ته ور بللي وو، خو حاضر شوي نه دي.

نوموړي زیاته کړې: «که لویه څارنوالي دا موضوعات بابېزه وګڼي او ښاغلی زهیر مجرم ونه پېژني او یا پرېکړه بل ډول وشي، ولې زموږ لپاره طاهر زهیر هغه پخوانی والي دی چې په ډېرو مهمو مواردو تورن دی او موږ به د همدې واقعیتونو پر بنسټ، خپله پرېکړه وکړو.»

ولسي جرګې دغه راز خبرداری ورکړی، هغه نوماند وزیرانو او د خپلواکو ادارو رییسانو ته به رایه ورنه کړي چې د فساد دوسیې ولري او یا هم له دندو په ناوړه ګټنې تورن وي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202520100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د جون ۱٦مه | ۵۵۱مه گنه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٥ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازیگر ۰۳:٤۰ | ماښام ۰۷:۰۷ | ماخوستن ۰۸:۵۲

## نړۍ



د کرونا ویروس چټکه پراختیا؛

# په ټوله نړۍ کې د دغه ویروس مثبتې پېښې له اتو میلیونو واوښتې

۳

## راپورونه: په نایجیریا کې په خونړیو بریدونو کې له ۴۰ ډېر کسان وژل شوي دي



د راپورونو له مخې، د نایجریا په شمال ختیځ کې د توندلارو په دوو بریدونو کې څه باندې ۴۰ تنه وژل شوي دي.
د توندلارو ملېشو پر ضد د یوې ډلې غړو د جرمني خبري اژانس ته ویلي، دا پېښې د بورنیو ایالت په دوو بېلابېلو سیمو کې رامنځته شوي دي.
په ورته وخت کې د نایجریا پوځ ویلي چې د دغو بریدونو تر شا د بوکو حرام وسله والې ډلې لاس دی، هغه ډله چې د اسلامي دولت ډلې یا داعش د لویدیځې افریقا یوه څانگه بلل کېږي. د دغه هېواد پوځ د خپلې دې ادعا په اړخ نور جزیات نه دي ورکړي.
د راپورونو له مخې، دغه بریدونه د نگانزای او مونگونو په نوم سیمو کې شوي دي چې تر دې وړاندې هم پکې ورته خونړۍ پېښې رامنځته شوې دي.
د نایجیریا چارواکو بیا ویلي چې په مونگونو کې د پوځ یوه لویه اډه پرته ده چې له دې سیمې د بوکو حرام د ډلې پر وړاندې عملیات هم تنظمېږي.
د یادونې ده چې بوکوحرام وسله واله ډله له څو کلونو راهیسې د نایجریا په شمال ختیځ کې فعالیت کوي او د زرگونو کسانو د وژلو مسووله بلل کېږي. دغه راز یاده ډله څو کاله وړاندې له داعش سره یوځای شوه.

## هندي چارواکي: په پاکستان کې مو دوه لوړپوړي ډیپلوماټان تري تم شوي دي

هندي چارواکي وایي، چې په پاکستان کې د هند د عالي کمېشن دوه چارواکي تري تم شوي دي. د هند حکومت وایي، دا دوه چارواکي تېره ورځ سهار په اسلام آباد کې له دفتر څخه په رسمي کار پسې وتلي او بېرته نه دي راستانه شوي. د هند حکومت دغه راز وایي، چې د دغو دوو ورکو شویو کسانو په اړه د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت سره تماس نیولی دی. په پاکستان کې د هند د عالي کمېشن دا دوه چارواکي داسې مهال ورک کیږي چې څو ورځې مخکې هند د پاکستان د عالي کمېشن دوه چارواکي د جاسوسۍ په تور له هند څخه وشړل. هندي چارواکي وایي، له دغې پېښې وروسته په اسلام اباد کې د هغوی سیاسي استازي ځورول کیږي. د یادونې ده چې عالي کمېشنونه د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماټیک فعالیتونه، د ویزو او پاسپورټ خدمتونه مخ ته وړي. د مطبوعاتو په راپورونو کې د دغو دوو هندي چارواکو په اړه نور معلومات نه دي ورکړل شوي او نه هم د پاکستان حکومت تر دې دمه په دې اړه څه ویلي دي. هند او پاکستان له ډېرو پخوا څخه په خپلو سره ښې سیاسي اړیکې نه پالي او تېرکال د دوی ترمنځ خبره تر جگړې هم ورسېده.


## وزارت تجارت: در آینده نزدیک صادرات به پاکستان دوباره آغاز خواهد شد




وزارت صنعت و تجارت افغانستان می‌گوید در آینده نزدیک صادرات به پاکستان دوباره آغاز خواهد شد.
امین بابک مسئول روابط عامه وزارت صنعت و تجارت افغانستان دیروز به رادیو آزادی گفته است که حکومت افغانستان در حال گفت‌وگو با مسئولان حکومتی پاکستان است تا هر چه زودتر صادرات به این کشور دوباره از سر گرفته شود. آقای بابک افزوده است که در شرایط کنونی افغانستان نمی‌تواند عمل مشابه با پاکستان انجام دهد چرا که این کار باعث افزایش بهای مواد خوراکی در بازارهای کشور می‌شود: «شما می‌فهمید که افغانستان یک کشور وارداتی است و مواد زیادی آن از کشورهای دیگر وارد می‌شود. در چنین وضعیت عمل بالمثل می‌تواند به مردم زیان برساند و باعث افزایش بهای مواد در بازارها شود، وزارت تجارت، اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری و دولت افغانستان در باره آغاز دوباره صادرات در فصل کنونی با پاکستان بحث می‌کند که در آینده نزدیک صادرات به این کشور دوباره آغاز شود.» این در حالیست که پس از گسترش ویروس کرونا در افغانستان صادرات و واردات به پاکستان متوقف شد. هر چند در نتیجه تلاش‌های حکومت افغانستان و تاجران این کشور، دو ماه پیش واردات از سر گرفته شد اما صادرات تا هنوز هم متوقف است. فرا رسیدن فصل میوه‌های تازه به نگرانی تاجران، زراعت پیشگان و باغداران افغان افزوده است آنان می‌گویند اگر پاکستان بندرهای تورخم‌چمن و سپین بولدک را باز نکند زیان‌های ناشی از آن جبران ناپذیر خواهد بود. با این همه شماری از تاجران می گویند اگر صادرات دوباره آغاز نشود آنان به میلیون ها دالر زیان خواهند کرد.


## ژوند

## د ښه ملگري ځانگړنې




هغه څېړنه چې په ۲۰۱۸ ز کال کې تر سره شوې ده، پایلو یې ښودلې چې موبایل نن سبا د ملگرو تر منځ د اړیکو ټینگولو پر ځای، د واټن پیدا کېدو لامل شوی دی. ښه ملگری هغه دی چې له تاسو سره د ناستې ولاړې پر مهال د بل هېڅ شي په اړه فکر نه کوي، داسې چې فکر کوی، تمرکز او تاسو ته پاملرنه یې د ژوند یو حیاتي اصل دی. ښه ملگری د خپلو اړتیاوو په پام کې نیولو سره د ملگري اړتیاوې او غوښتنې هم په پام کې نیسي او پوره پاملرنه ورته کوي. په ملگرتیا کې باید دوه اړخیز زغم موجود وي او پر موقع باید دواړې خواوې په پوره ارامۍ خبرې وکړي او نظرونه سره شریک کړي. ښه ملگری هغه دی چې هېڅ وخت مو یوازې پرې نه ږدي. هغه کسان چې یوازې په خوښیو کې مو گډون کوي، ښه ملگري نه دي، بلکې ښه ملگری هغه دی چې په خوښۍ او غم دواړو کې مو ترڅنگ ودرېږي.

## تر خپلې وسې د ټولنیزو شبکو کارول محدود کړئ!




ټولنیزو شبکو ته لږ وخت ځانگړی کړئ. موږ او تاسو ډېری د نورو لپاره د ځان ښودنې او یا دا چې ځان پرمختللی معرفي کړو، په بېلابېلو ټولنیزو شبکو کې اکونټونه جوړوو. لازمه نه ده چې تاسو باید په ټولو شبکو کې د ځان لپاره اکونټ جوړ کړی. د دې لپاره اړتیا نشته چې د موبایل پر سکرین مو ډول ډول پروگرامونه ښکاره شي او په ټولو شبکو کې باید اکونټ ولری. دغه څه مو ذهني ارامي له منځه وړي. موږ د ژوندي پاتې کېدو لپاره هوا، خوړو، د پروټینو او ویټامینونو ټاکلې اندازې ته اړتیا لرو، نه فېسبوک او انسټاگرام ته. باید هره شېبه د نوټیفیکېشن له ټینگ، ټینگ څخه ځان خلاص کړو؛ ځکه دغه څه مو ارامي له منځه وړي. کله چې د خپلو ټولنیزو شبکو نوټیفیکېشنونه بند کړی، ورځنۍ چارې به په پوره تمرکز ترسره کړئ. په ټبلېټ او ټلیفون کې مو چې کله نوټیفیکېشن او پیغام راځي، موږ ته را یادوي چې په مجازي نړۍ کې نوي څه پېښ شوي دي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

ماسټر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداگریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو کټه اخیستلی شئ.



www.azizibank.af 1515